

بسم الله الرحمن الرحيم

د سعیدافغاني د سولې او تفاهم ، نشراتي ارګان

www. said-afghani.org

استقامت په ژوند کې او متانت په کارنوکې
د موفقیت راز دی . « سعید افغاني »

Dr. M. Said Said Afghani

آزاده ، ټولنیزه ، فرهنګي
او نشراتي ارګان

د سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



صیام الدین « پسرلی »



د نشر نیټه : ۲ اکتوبر ۲۰۱۲ میلادی


# ختیځ ادبي بهیر خپله ۱۱مه ناسته ترسره کړه




ختیځ ادبي بهیر د خپلو اونیزو ناستو په لړ کې خپله ۱۱ مه ناسته د ۱۳۹۱ کال د تلې میاشتې په ۷ مه نیټه په جلال اباد ښار کې د میدوتیک د علمي او کلتوري مرکز په انګړ کې ترسره کړه.

ناسته د سهار پر نهو بجو پیل او د غرمې تر ۱۲ بجو پورې یې دوام وکړ.

غونډه چې د دریځ چارې یې عرفان الله بیدار مخکې وړلې د محمود خزان لخوا د قران پاک د څو مبارکو ایاتونو پرتلاوت پیل شوه.

مشر میلمه یې باطن شاه اشنا و او د کوربه په څوکۍ محمد نادر دانش ناست و.

تیره اونۍ د بهیر د ګزارشګر ایمل مرووند د نه شتون له امله د غونډې ګزارش بختیار ساحل لیکلی و، چې د لوستلو لپاره یې ایمل مرووند دریځ ته وبلل شو.

که څه هم د ګزارش لیکونکی نه و راغلی، خو ګډونوالو پرګزارش خبرې وکړې او د بحث پیل غزت الله ځواب وکړ.
ځواب وویل ساحل ګزارش ډېره ښه او روان لیکل دی، خو په ګزارش کې یې د تکراري کلیمو یادونه وکړه، نوموړي وویل د ګزارشګر کمال په دې کې وي، چې اوږدې خبرې په لنډو تکو کې راونغاړي، خو ساحل ځای ځای ځینې خبرې په ډېرو اوږدو جمعلو کې لیکلي دي .
همت مل بیا په ګزارش کې د ځینو کسانو د خبرو د نه لیکلو یادونه وکړه.
عرفان الله بیدار بیا د تیر په څیر په ګزارش کې د شاعرانو د نوم لړ په اړه خبرې وکړې، نوموړي وویل که چرته د هغه کسانو نومونه، چې په غونډه کې ګډون کوي ولیکل شي، نو د هغوی د هڅونې لپاره به یو ښه ګام وي.
د بیدار په وینا ګزارش ډېر ښه او روان لیکل شوی و.
زلمي بیا ګزارش سترې کونکی وبللو او زیاته یې کړه ګزارش ښه لیکل شوی، خو د ځینو کسانو خبرې دومره اوږدې وې، چې اوریدونکی او لوستونکی یې هسته کولو.
احمد سهیل د بیدار او زلمي سره په یوه خوله و او د شاعرانو د نوم لړ او د ګزارش د اوږدیدو خبره یې کوله .

بازمحمد عابد وویل تیره اونی غونډه سولې ته ځانګړې شوې وه په باور یې که د املوال د خبرو سره د نورو ملګرو خبرې، چې د سولې په اړه یې کړې وې هم راخیستل شوې وې، نو ګزارش او غونډه دواړه به یې ښکلي کړې وو.
په ټوله کې ګزارش عابد ښه وارزولوو، خو د ګزارش لوستونکی د لوستلو  انداز یې خوښ نه کړ.
ضیاالدین  همت مل بیا د ګزارش د کلیمي په اړه خپل نظر څرګند کړ نوموړي وویل که چرته په دې باندې فکر وکړي، چې د کزارش د کلیمي بدیل پیدا کړي .
باز عابد یې په ځواب کې وویل: دا مسله اوږدو خبرو او یو شمیر لویو استادانو پورې تړاو لري د عابد په وینا تر دې وړاندې هم په دې اړه د مشرانو لخوا بحثونه شوي دي، خو تراوسه پورې یې کومه مثبته نتیجه په لاس نه ده ورغلې .
پر ګزارش د خبرو ورسته حالید ټکان دریځ ته وبلل شو او د ژمنې سره سم یې خپله لنډه کیسه کرکتنې ته وړاندې کړه .
پر کیسې د بحث پیل احمد جمال جمال وکړ:
 نوموړي وویل هره کیسه یو نوم یاعنوان لري، خو حالد ټکان بیا دا کار نه دی کړی او کیسه یې بې نومه ده .

احمد سهیل هم د احمد جمال په تاید د کیسې د نوم یا عنوان خبره وکړه نوموړي  همدارز وویل چې په کیسه کې ځینې تکراري کلیمې راغلې وې، چې ځای ځای یې د کیسې مزه بې خونده کړې وه .
سهیل همدارنګه د ځینو نامناسبو کلیمو خبره هم وکړه چې د لیکوال لخوا په کیسه کې کارول شوې وې لکه د چغار، مغار او داسې نورې د کیسې په یو ځای کې راغلي وو، چې ماشومانو په کوټه کې چغار مغار جوړ کړی و، نوموړي د چغار او ورسره مغار کلیمه سمه او پرځای ونه بلله .
خو محمود خزان یې په ځواب کې وویل ټکان هڅه کړې ، چې خپلې کلیوالي کلیمې وکاروي .
غزت اله ځواب د کیسې نثري برخه وستایله ،خو په وینا یې تراخره هم څوک نه پوهیږې چې د کیسې اصلي کرتر څوک دی. نوموړي  هم د کیسې د عنوان خبره وکړه وې ویل په کیسه کې د کیسې نوم یا عنوان ډېر مهیم رول لري  او د کیسې یوه مهیمه برخه جوړوي.

تر ځواب ورسته بازمحمد عابد دریځ ته پورته شو او وې ویل ټکان، چې زه ورته بیچاره وایمه ځکه چې د ده یو غزل، چې بیچاره ردیف لري زما ډېر خوښېږي او زما له خوانه یې د نن نه ورسته تحلص هم بیچاره شو.

عابد زیاته کړه حالد ټکان نوی ځوان دی ما یې شعرونه لوستي دي، خو نثر یې په اول ځل لولمه ټکان کمال کړی دی او په ډېر هنري ډول کیسي ته ننوتی دی او د کیسي کرکټر هم خپله راوي یا کیسه کونکی دی، خو ولي پیل یې ډېر ښه کړی، خو بیا کیسه اوج ته نه رسوي او په پای کي ځان خبریال ښيي چې په سرکي یې د خپلي دندې هیڅ یادونه هم نه ده کړې .

عابد که څه هم د کیسي د نثر ستاینه وکړه، خو په کیسه کي یې د ځینو ناشایسته کلیمو د کارولو په اړه هم خبرې وکړي نوموړي (خپله سوروره ږیره یې راواړوله) دې جمعلي ته په اشارې سره وویل د ږیرې لپاره باید داسي الفاظ ونه کارول شي او په ادب کي داسي کلیمو ته ناشایسته کلیمي وایي .
محمد نادر دانش هم په سرکي د کیسي د نوم په اړه خبرې وکړې او بیا یې د سوروری ږیرې د جمعلي په اړه زیاته کړه ټکان د اجمعله د هغه سرې د ظاهري شکل د انځورولو په خاطر کارولي ده، خو د دې پرځای یې که د ګني ږیرې الفاظ کارولي وو نو له انده یې ښه به وو.
دانش همدارنګه د ځینو حقوقي او جزایي کلیمو په اړه چې په کیسه کي د لیکوال لخوا یادې شوې وې خبرې وکړې او په اړه یې معلومات ورکړل نوموړي په ټوله کي کیسه ښه وارزوله او د حالد ټکان دا لومړی هڅه یې وستایله .

نوزاد شیرزاد هم په کیسه کي د تکراري کلیمو او د کیسي د کرکټر د دندې د نه روښنتیا خبره کوله نوموړي همدارنګه وویل په کیسه کي ډېرې داسي نامناسبې کلیمي کارول شوې وې چې د متن خوند یې خراب کړی و لکه : چغار مغار کالي مالي او داسي نورې .
ولي محمد کندیوال وویل زما په نظر همدا لویه خبره ده چې ټکان په دې کم عمر کي د ټولني د حالاتو څخه دومره متاثیره دی او درک کوي یې، خو د کیسي په لیکنې او ژبني برخه کي یو څه ستونزه وه.
د نوموړي په خبره کیدای شي چې ټکان خپله مطالعه ډېره کړي او ډېر لوستل وکړي په باور یې نثر لیکل به یې ورسره نور هم پیاوړي شي .
نوموړي په کیسه کي د پیعام په اړه وویل، چې پیغام یې یو څه ګونګ دی او د لیکونکي نه اصلاي پیغام په نورو برخو کي پټ شوی دی.
کندیوال همدارنګه ټولو نویو ځوانو لیکوالو ته لارښونه وکړه چې خپله هره نوې لیکنه چې کوي یې د لیکلو ورسته دې د یو څه وخت لپاره یوې خواته ږدي او بیا څه موده ورسته دې ګوري په باور یې ډېر زیات اصلاحات به پکي خپله راولي .
د ګندونوال ترخبرو ورسته خپله د کیسي لیکوال دریځ ته وبلل شو، ټکان په سرکي له ټولو مننه وکړه چې نیکي مشورې یې ورکړې او د ځینو ملګرو په ځواب کي یې وویل :
زما تجربه په کیسه او نثر لیکلو کي کمه ده ځیني هغه کلیمي چې تکراري راغلي دي هغه مې د ډېر ټینګار په خاطر کارولي دي .
نوموړي د کرکټر د دندې په اړه وویل د کیسي موخه او هدف د کرټر دنده نه وه بلکي د ماشومانو تښتونه وه چې باید لوستونکو ته ښکاره شوې وه.
ټکان همدارنګه د ځینو هغو کلیمو چې د بحث کونکو لخوا پرځای کارول شوې کلیمي نه وې بلل شوې وویل ، د دې کلیمو له کارولو نه یې موخه د کلیوالي انځور وړاندې کول وو.
پر کیسه د کرکتنې ورسته د مشاعرې برخه پیل شوه چې لاندې شاعرانو پکي خپل شعرونه وویل:

فرید الله ملاتړ، فضل حق سید، بصیر احمد تلاش، محمد اسحاق، ادریس خان، حالد تکان، صابر شاه صاپی، سمندر ساحل، محمد نادر دانش، محمود خزان، ضیاالدین همت مل، عرفان الله بیدار، نوظت شېرزاد، غزت الله ځواب، احمد جمال جمال، بازمحمد عابد، محمد زمان سهیل، مقدس نور ستانکزی، خاورې منت بار، هارون خپلواک، استاد شېرحسن کمالزی، ولي محمد کنډیوال، کماالدین اظهار، خالد جمال، میوند شینواري او ایمل مړوند.

تر مشاعرې ورسته د غونډې مشر مېلمه باطن شاه اشنا درېځ ته وبلل شو او نوموړي د دا ډول ناستو او غونډو جوړېدل یو ښه او نیک ګام وبللو، خو ټینګار یې وکړ چې  باید شاعران او لیکوال د هرډول فساد څخه ځان وساتي او په ریښتني ډول د ټولني د حدمت لپاره ملا وتړي
ورپسي د غونډې کوربه نادرش دانش غونډه ښه وارزوله او یادونه یې وکړه چې د پیل نه ترپایه پورې هره اونۍ نوې ځېرې او نوې ځوانان ګوري چې دا خپله د غونډې د ښه پرمختګ څرګندونه کوي .

دانش د غونډې پیل په ټاکلي وخت ټینګار وکړ چې باید ټول ملګري په ټاکلي وخت راشي .
په پای کې د راتلونکې اونۍ لپاره وټاکل شوه چې عابد صیب به د شعر په اړه معلومات وړاندې کوي او احمد جمال جمال به خپله لیکلې موضوع راوړي او خبرې به پرې کوي .
غونډه غرمه مهال پای ته ورسیده

صیام الدین « پسرلی »

www.said-afghani.org  –  بازگشت به صفحه اصلی